مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر صلاح‌الدین سعیدی ۲۰۲۵/۱۱/۰۸

# ټولګډون حاکمیت یعنې څه؟

د ټولګډونه حاکمیت غوښتونو نکو ته دا وېل غواړم چې دا غوښتنه باید درسته تعریف شي !
ټول ګډونه حاکمیت چې ښایسته ښکاري عمل کې بې محتوا او غولونکي او یا ډېر ځلي او روستي جمهوریت کې د زور واکانو سره د غنایمو په تقسیم کې د شراکت بازار وو او دی !
ټولګډون او پوډول مصلحتي حاکمیت چې ددې نامه لاندې حاکمانو زور ګویانو ته جزیه ورکول چې ترې آرامه شي او د سیاسي قدرت چوکی لا هم په هر قیمت ولري، نادرستي، دوکه او حتی ددغه نامه لاندې تباه کوونکي معاملې او حق تلفی وشوې! بوشمېرو زور واکو ترې ښې ناروا ګټې پورته کړې!
دغه ببولالو شل کاله نتیجه ورنکړه او مبتذله بڼه یې د قانون له حاکمیته پرته او مصلحتي عملي شوه! په دې توګه دې نتیجې ته ورسېدو داسې ټولشموله او ټول ګډونه پر ځای باید د مشروع حاکمیت پر غوښتنه ټینګار وکړو! دغه برخه کې مو ډېر مستدل وویل او ولیکل چې :
او په دې توګه ټولګډونه حاکمیته، د قانون له حاکمیته پرته او مصلحتي حاکمیت او دیموکراسي!؟ مبتذله، د سوء استفادې موجب او حتی وحشي ده !
دده په پایله کې غیر متوازن اقتصاد ( د غیز متوازن اقتصاد بلاوې، تفاصیل - د جناب داکتر نوراحمد خالدي په عالی لیکنه کې - افغان جرمن آنلاین کې کتلای او اوستلای شئ!)، غلط کدري سیاست، د بهرنیو سفارتخانو او محلي قومندانانو حکومت او د هغوی کدری سیاست او ... نورې بلاوې د جمهوریت او مردم سالارۍ نوم بد او پدې توګه شل کاله، د عصر غیر قابل تکرار فرصتونه یې ضایع کړل او لا هم په سپین سترګي د رهبری او اتلولی مدعیان دي!
مونږ افغانستان کې مشروع حاکمیت غواړو چې قومي، ژبنیز او حزبی معیارونه د ملت په غیاب کې د بهرنیو سفارتونو او بهرنیو استخباراتي کړیو تصمیم نه بلکې د ملت د ارادې پر بنیاد، یو وګړی یوې رأې پر بنیاد مشروع حاکمیت، مشروع قوانین نافذ او د هغو اجراء غواړو !
مشروع حاکمیت کې ملت د بشري ماتي ګوډې دیموکراسۍ په چوکاټ کې اول نسخه او لاره غوره او د نسخې او لارې انتخاب نه روسته د هغه ریښتیني علمبردارانو د هماغه مشروع نسخې د تطبیق لپاره وګمارل شي! ګمارل څه، ملت ګمارلي، خو د کار فرصت ورکړل شي! دا باید سیستمي حل شي !
که قیاس مع الفارق نه وي، انسانان د نورو له تجاربو ګټه اخلي! انګلستان کې پاچا مکلف دی، هو مکلف دی، د هغه سیاسي ګوند رئیس ( هو رئیس) د هېواد صدراعظم و نوموي او دا رئیس دی خپل حکومت جوړولو باندې موظف شي چې د پارلمان د ۶۵٪رأیو نه یې ۳۲۶ رأیې په ټاکنو کې ګټلي وي! دلته پاچا ( جمهور رئیس ) ته انتخاب نه شته !
دا به افغانستان کې آسانه لار نه وي! خو له یوه ځایه باید پیل شي !
د جمهوریت مبتذل ډول دا افکار او دا بشر ته ممکن ارزشونه، تر ډېره بې معنا او بدنام کړل! دا نیمچه او د ښو ارزشونو او مفاهیمو نه سوء استفادې شکل او لاقانونیت دغه برخو کې د ټول سالم فکر او ټول ارزش د بدنامی موجب شول! تفاصیل نور هم لرم !

داکتر صلاح الدین سعیدی
۲۰۲۵/۱۱/۷



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ